درویش وردک

۱۵ جون ۲۰۱۶

## پنځه ځلویښتم مجلس (تمسک په عروة الوثقی)

د۵۴۵ هجری قمری کال درجب دمیاشتی په شپاړلسمه سهار، شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَلْعُونٌ مَلْعُونٌ مَنْ كانَتْ ثِقَتُهُ بِمَخْلُوقٍ مِثْلِهِ)-« ملعون دی، ملعون دی هغه کس چی تکیه یی دځان پشان په مخلوق وی». ډیری کسان ددی لعن مشمول ګرځی. دخلکوله ډلی څخه، یو پرخدای عزّوجلّ متکی دی، اوهرڅوک چی په خدای متکی و، نودښتن په قول« فَقَدِاسْتَمْسَکَ بِالْعُروَةِ الْوُثْقی » په ټینګه رسی یی منګولی لګولی.

وای پرتا! خلک به ستاڕتیاوی، یوه ورځ، دوه ورځی، یوه میاشت، یوکال اویا حداکثردوه کاله پوره کړی، اوبالاخره به ستاڅخه بیزاره شی،پس پرتالازمه ده چی دنیازلاسونه دخدای حضورته پورته کړی، اوخپلی اړتیاوی دهغه څخه وغواړی، ځکه یوازی خدای دی چی له نه بیزاره کیږی،اودغوښتنی څخه دی په تنګ نه راځی.

ریښتینی مومن دتوحید په رڼا کی، پلاراومور، زن اوفرزند، دوست اودښمن ځای اومال له لاسه ورکوی، اوپه هیڅ شی دلخوش ندی،پرته دحق عزّوجلّ په درګاه اودهغی په ورکړو زړه تړل دی.

ای چی په دیناراودرهم دی زړه تړلی، پوه شه چی ډیرژربه دی له لاسه ووزی، اوعقوبت به یی درته پاته شی. ددنیا شته چی دنورو مال و، ورڅخه واخیستل شو اوتاته تسلیم شو، ترڅو دخدای داوامرو داطاعت اوعباداتوپه ترسره کولو کی هغه په کاریوسی، ولی تا هغه خپل بت ګرځولی.

ای جاهله علم زده کړه، اودخدای په لاره کی یی په کارواچوه، اوپه هغی عمل وکړه ترڅو دی مودبه کړی. پوه شه چی علم ژوند دی اوجهل مرګ. راستګوهرکله که دمشترک علم څخه فراغت حاصل کړ، خاص علم ته به عنایت وکړی. علم خاص عبارت دی دزړه اواسرارو دعلم څخه . اوهرکله که مو په دی علم لاس برشو، ددین سلطان به شی. دخدای په اذن به امرونهی کوی، عطا اومنع به کوی، دخلکو امیربه شی، دخدای په امربه له دوی څخه اخلی، اودهغه په امربه یی نورو ته بخشی، له خلکو سره به دخدایی قوانینو داحکامو پربنسټ زندګی کوی، اوله علم سره به دحق پیشګاه ته حاضردی.

حکم ددرګاه دروزاه وان دی اوعلم یی اوسیدونکی دی، حکم عام دی اوعلم خاص، عارف دحق په درګاه مقیم دی اودپیژندنی علم ورته مسلم ګرځیدلی، اوپه داسی امورو یی آګاهی پیداکړی چی نورتری ناخبره دی، که په عطا امرشی عطا کوی، اوکه په امساک امرشی ،امساک کوی، په خوړودستورومومی ، خوری، په لوړه فرمان ورکړل

شی، وړی کښینی، ورته امرکیږی چی له یوه سره الفت وکړی، اوله بله معرض اومخ واړوی، دچاعطا لپاره داخیستو دستورترلاسه کوی، اودنوروبخشش ته بیا درد ځواب اخلی، هرڅوک چی دده یاروی نصرت به یی په برخه شی، اوهرڅوک چی دده دښمن و هغه به خوارشی.

آگاه اوسی چی داولیاءالله قوم ددی لپاره چی تاسو ته ګټه ورسوی، ستاسو خواته درځی، نه دځپلو اړتیاودرفع کولو لپاره، ځکه دوی اساساً دخلکو نیازمند ندی. دخلکو داتحاد رسی تاووی، اوددوی دحیات بنسټ محکم اوقوی کوی، اوپردوی مشفق اومهربانه دی. دوی په دنیا اوآخرت کی دحق صرافان اونقادان دی. هرڅه چی ستاسو په اړه ترسره کوی ستاسو په ګټه دی، نه ددوی، ددوی کارخلکو ته نصیحت اوپایداری اواستقامت په دی لاره کی، ځکه هرکارچی دخدای رضا پکی منظورنظرنه وه دوام لری، اوله هغی غیر بی دوامه اوناپایداره.

دعلم اوعلماو خدمتګزاره اوسه، اوددوی پرخدمت صبر پیشه کړه، ځکه هرکله که ددعلم په زده کړه صبروکړ علم به هم ستا په خدمت کی قرارولری، اوهمداسی چی تادهغی په خدمت صبرکړی، هغه به هم ستا په خدمت کی صبر وکړی. هرکله که ددعلم خدمت وکړ، دزړه اوباطن په نوربه لاس بری ومومی.

(ای قومه) خپل ټول کارونه عزّوجلّ خدای ته پریږده، ځکه خدای ستاسو په مصالحو آګاهتردی. دالهی فرج په هیله اوسی، ځکه چی دحق رحمت ،ساعت په ساعت پربندګانو نازلیږی، دخدای خدمت وکړی ترڅو دهغی درحمت دروازی ستاسو پرمخ پرانیستل شی، اوخلکو ته دنیاز دروازه درباندی وتړل شی. په دی حال کی به دسای عجایب وګوری چی ستاسو په تصورکی هم وی ګرځیدلی.

وای پرتا! که چیری تبارک وتعالی خدای وغواړی چی دخلکو پواسطه درته ګټه ورسوی، وبه رسیږی، اوکه اراده وکړی چی درته زیان ورسوی، زیانمن اومتضرر به شی. پوه شه چی هغه ذات دی چی زړونه ستا پرنسبت سخت اوبی مهره کوی، هغه دی ژوندی کوونکی اومړکوونکی، ښونکی اومنع کوونکی، عزیزکوونکی اوخوارکوونکی، هغه دی شفا ورکوونکی اوبیمارکوونکی، موړونکی اووږی ساتونکی یوازی هغه دی. پوښی اولوځوی، هغه دزړونو آرام کوونکی اوویرونکی دی، هغه دی اول او آخر اوظاهر اوباطن، داټول صفات ځانګړی خدای لره دی اولاغیر.

پس دزړه له کومی په دغی مسالی اعتقاد ولره، ګرچه په ظاهره سره دمخلوق سره هم معاشره یی. دا دصالحینو اومتقینو رفتاردی، چی په ټولو احوالاتوکی دعزّوجلّ خدای خوف په زړه کی لری، په ټولنیزژوندانه کی په رآفت اومدارا له خلکو سره رفتارکوی. ددوی دعقل اوفهم په اندازه سره ددوی سره خبری کوی، په نیک خوی سره چی دکتاب اوسنتو دتعالیموسره امرپه معروف اونهی له منکره څخه کوی، که ومنل شو نو له دوی څخه شکرګزاره کیږی، اوکه یی ونه منله، نورنوددوی ترمنځ اړیکه نه پاتیږی، ځکه دالهی فرامینو په اجراء کی هیڅکله کوتاهی نکوی.

زړه دی مسجد وګرځوه، اوپه دغه مسجد کی پرته له خدایه بل څوک مه یادوه، عزّوجلّ خدای فرمایی: (وَاَنَّ لِلّٰہِ،فَلَاتَدۡعُوا اللّٰهِ اَحَدًا)-«مساجد خاص خدای لره دی، په هغی کی پرته له خدایه بل څوک مه یادوه، سوره جن آیه ۱۸». هرکله که دبنده مقام اودرجه داسی پورته لاړه نو له اسلامه به ایمان اوله ایمانه به ایقان اوله ایقانه به معرفت اوله معرفته به علم اوله علمه به محبت اوله محبته به محبوبیت ته نایل شی.

په دی حال کی هرکله که غافل شی، نه طرد کیږی، هرکله که دنسیان سره مخ شو، ورته یادون کیږی، هرکله که ویده شو، ویښوی یی، هرکله که ورته فراموشی پیداشوه ، هوښیاروی یی، هرکله که یی روی ګردانی وکړه ، ورته مخ اړول کیږی، کله چی خاموش پاته شو، په نطق یی راولی، اوتل ویښ دی اوبیداره، ولی؟ ځکه چی زړه یی صفا موندلی اوله ظاهره باطن ته متوجه شوی، اودابیداری یی له نبی اکرم(صلی الله علیه وسلم) څخه په ارث وړی، چی

دهغه به په ظاهره سترګی په خوب لاړی،ولی زړه یی تل ویښ و،هغه به شیان ترشاه داسی لیدل لکه دمخی چی یی لیدل.

البته دهرچا بیداری دهغه دمعنوی څواک په اندازه ده، اوچالره هغه منزلت نشته چی دهغه حضرت دبیداری مقام ته به ورسیږی، هیڅوک په هغه حمیده اخلاقو کی چی متعال خدای هغه ته عطا کړی و، نشی شریک کیدای،ولی اولیاء الله اودامت ابدال دهغه ددسترخوان ریزه خواران دی، اودهغی دمقاماتو له دریاب څخه یی یو څاڅکی ترلاسه کړی، اودکرامت له غره څخه یی یوه ناچیزه ذره دی، هغوی دده دنباله رو اومتمسک اوناصراوددین ناشریی دی، دحق ددین دعلم اوعمل په نشرسره، هغه پیاوړی کوی، دخدای درود اوتحیات دی وی پرده اودده په رینتینو پیروانوباندی.

مومن یونظردنیاته اچوی اوهغه غواړی اوپه زړه کی یی اچوی، ولی هرکله که یوه شوچی دنیا غواړی پری مسلطه شی هغی ته طلاق ورکوی، اودآخرت غوښتونکی کیږی، آخرت په زړه کی ځایوی، منتهی که آخرت هم وغواړی هغه پرڅان پوری وتړی، اوله خدایه یی لیری کړی، خوف لری، پس ناچاره هغی ته هم طلاق ورکوی، اوددنیا ترڅنګ قرارورکوی. دحق جل وعلاپردرګاه مقیم کیږی اودهغی په درشل تکیه کوی. اودابراهیم خلیل په لاره چی لومړی یی ستوری، بیا سپوږمی، اوبیا لمر یوپربل پسی نفی کړل اوویل به یی: (قَالَ لآاُحِبُّ الْاَفِلِیْنَ، اِنِّی وَجَهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِی فَطَرَ السَّمَواتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفاً،وَمَااَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ)-«وویل چی غروب کوونکی نه پالم، په رینتینی ما مخ دهغه چاخوانه کړی چی ځکی اوآسمانونه یی پیداکړی اوزه دمشرکانوڅخه نه یم. سوره انعام آیه ۷۹-۷۶».

نوکله چی یی دحق په باب په رینتینی اوصداق سره تکیه وکړه، اوخدای یی په حق سره وپیژانده، نو هغه وخت به دحق دقرب درګاه دده پرمخ پرانیستل شی، اوددخول اذن به ترلاسه کړی. دی به له دنیا اوعقبی څخه خبرکړی، څکه خدای دهرچا په احوال ترده لا باخبره دی، سرنوشت به یی ورته روښانه کړی،دانس په مقام به یی سرفرازه کړی اودرضا خلعت به ورته واغوندی، هغه وخت به خپلی دوه مطلقی ، یعنی دنیا اوآخرت ووینی اوومومی، اوترشرایطولاندی به ددواړو سره وصل شی، شرط به داوی چی: دواړه یی په خدمت کی وی، اوخپله په زړه اوباطن سره دحق په خدمت کی، په دی وخت کی دخدای آزاده بنده، له ځمکی اوآسمانه بی نیازه شی، څه شی به پری مسلط نشی، اوهغه به دټولو اشیاو مالک وی. په داسی قدرت به لاس ومومی چی درحمت باب به یی پرمخ پرانیستل شی، اوپرته له حاجبه دربانه به هغی ته ورننه شی.

(ای دخدای بنده) داولیاء الله دقوم غلام اوچاکراوسه، څکه چی دنیا اوآخرت دهغی غلامان دی، هرکله چی څه اراده وکړی، دخدای په اذن هغه ترلاسه کوی. له دنیا څخه ظاهری صورت اوله آخرت څخه معنی اوباطن ترلاسه کوی.

**لویه خدایه، په دنیا اوآخرت کی دمونږ اوهغوی ترمنځ آشنایی حاصل کړی.! آمین**

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقناعذاب النار»آمین.**